بسم الله الرحمن الرحیم

تجارت حقوق د حقوقو په ډله بندی کی د خصوصی حقوقو برخه ده.

تجارت حقوق تاریخی سیر: په پخوانی دوره کی مصر، یونان، او روم تجارت درلود خو کوم قوانین به نه وه بلکی د سود معاملی کیدلی. په منځنی دوره کی هم د تجارت حقوق شتون نه درلود. په نوی دوره کی تجارت حقوق ته پاملرنه وسوه او په اروپا کی یوشمیر قوانین رامنځته سوه. د فرانسی په انقلاب سره په فرانسه کی د تجارت حقوق رامنځته سوه او اروپا هم ورڅخه استفاده وکړه. په افغانستان کی په ۱۹۳۵ کی د تجارت حقوق رامنځته سوه.

د تجارت د ترسره کولو لاری: ۱-هوایی تجارت، ۲- دمځکی له لاری تجارت، ۳- د اوبو له لاری تجارت

دتجارت حقوق منابع؛ ۱-قانون، ۲-اسلامی شریعت، ۳-تجارتی مقاولات، ۴-تجارتی عرف او عادات، ۵-قضایی رویه، ۶-دوکترین

1. **قانون:** هغه صریح او معقول وړاندیز ته وایی چې دحاکمه هئیت له لوری د افرادو د سعادت او داجتماع دتنظیم په منظور وضع کیږی او تطبیق یی الزامی جنبه ولری.
افغانستان اساسی قانون(۱۱ماده): په کورنی او بهرنی سوداګری پوری تړلی چاری
2. **اسلامي شريعت :**كه چيري په قوانينو كی اړونده تجارتي ستونزه او منازعه حل وفصل نسي او يا داچي په قانون كي د تجارتي شخړو په اړه كوم احكام موجود نه وي نو بيا اسلامي شريعت ته رجوع كيږي او تجارتي اړوند معاملات داسلامي شريعت له مخي حل اوفصل کیږی.
3. **تجارتي مقاولات:** تجارتي مسايل د معتبرو قانوني مقاولاتو په ذريعه حل او فصل كيږي. (د افغانستان د تجارت اصولنامه ۲ ماده) معاهدات یا تجارتی قراردادونه په دوه ډوله دي

۱- داخلی یا ملی قراردادونه ۲- نړیوال یا بین المللی قراردادونه

1) ملی مقاولات: هغه دي چي د هيواد په داخل كي د داخلی تجارت لپاره دهغه هیواد د اتباعو ترمنځ تړون کیږی هغه موضوعات چي د دوی په تجارت پوری اړه لری، هغه موضوعات چي په همدی تجارت پوری اړه لری مخکی له مخکی په همدی قرارداد کی ذکر کیږی او د منازعاتو په حل کی د طرفینو سره مرسته کوی.
2) نړیوال مقاولات: په خپل ځان کی په دوه ډوله دی:
   أ. خصوصی نړیوال مقاولات: هغه قراردادونه دی چي د دوو یا څو هیوادونو خصوصی شرکتونه یی خپل ترمنځ امضاء کوی چي د منازعاتو په حل کی مرسته کوی او بعضی اوقات نړیوال محاکمو ته راجع کیږی.
   ب. دولتی نړیوال مقاولات: هغه دی چي دوه یا څو هیوادونه پدی باندی قرارداد کوی چي په راتلونکی به ددی هیوادونو تجاران یا شرکتونه ددی قرارداد په اساس خپلی تجارتی کړنی مخته وړی، هرهیواد چي دا تړون امضاء کړی نو قواعد به یی داسی مراعتوی لکه خپل د هیواد یوقانون.

4. **تجارتی عرف:** هغه قواعد او مقررات دي چي په ټولنه کی د ډیروخت څخه مروج او دټولنی خلک ورته احترام ولری.
**تجارت اصول نامه ۲ماده:** هرکله چی تجارت حقوقو کی رامنځته سوی منازعه دقانون په واسطه حل او فصل نسی تجارتی عرف ته مراجعه کیږی.
5. **قضایی رویه:** د [illegible] اعتبار درلودنکی وی.
6. **دوکترین:** دتجارت حقوقو له مخی د حقوق پوهانو نظریات او وړاندیز عبارت له دوکترینو څخه دی.

Ketabton.com

**تجارت حقوق:** دهغه قواعدو او اصولو ټولګه ده، چې د سوداګرو او سوداګریزو چارو ترمنځ حقیقی روابط او معاملات تعریف او تنظیموی.

تجارت حقوق په سوداګرو اړوند دی او که سوداګری؟ دوی نظریی شتون لری.

1. **انفسی(شخصی) نظریه:** پدی نظریه کی ډیر اهمیت و سوداګر ته ورکول کیږی، یعنی شخص ته اهمیت ورکوی او سوداګری د شخص تابع ګڼی، د المان دتجارت قانون د همدی نظریی پیروی کوی.
2. **افاقی(موضوعی) نظریه:** پدی نظریه کی اهمیت و سوداګریزو معاملو ته ورکول کیږی. فرانسه دهمدی نظریی پیروی کوی افغانستان هم د دواړو نظریو پیروی کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سوداګر(تجار):** هغه کس دی چې خپل کسب او پیشه یې تجارتی معاملات ګرځولی وي یاهغه څوک دی چې د ګټې په منظور یې اخیستل او خرڅول خپل کسب ګرځولی وی.

تجارت اصول نامه ۸ماده: هغه شخص یا شرکت چې سوداګری اهلیت لرونکی وی په خپل نامه په یوه یاڅو تجارتی معاملو مشغول وی او دغه کسب د خپل مسلک په توګه وکاروی تجار یا سوداګر بلل کیږی.

کوچنی تجار(ت ا ۱۲ماده): هغه شخص کوچنی تجار دی چې پر بدنی هڅی او کوښښ باور ولری او کار ثمره یې دومره کمه وی چې د روزمره ژوند لپاره یې متکفی وي.

د کوچنی تجار امتیازات: ۱-د تجارتی ادرس،نښی او دفترونو په لرلو مکلف نه ګڼل کیږی. ۲-دافلاس د قانون لاندی نه راځي.

**اهلیت:** په لغت کی وړتیا، ښایسته ګي او کفاءت ته ویل کیږی. په اصطلاح کی هغه وړتیا او ښایسته ګی ده چې په اساس یې یو شخص د یو شی په استفاده یا اجراتو حق پیداکولو صلاحیت لری.

اهلیت ډولونه

1. انتفاع اهلیت: هغه وړتیا ده چې هرانسان یې د پیداکیدو یا جنین د مرحلی څخه درلودنکی ګرځی لکه خوارک،څښاک
2. د اجراتو اهلیت: هغه وړتیا ده چې یوشخص یې په درلودلو سره دحقوقی معاملاتو د ترسره کولو صلاحیت لرونکی شمیرل کیږی.
   ت ا ۴ماده: هرشخص چې ۱۸کلن او د شخص او تجارت له حیثه دحقوقی تصرفاتو له پاره کوم موانع موجود نه وی کولای سی تجارت وکړی.
   لیونیان،نابالغ او نورعدم اهلیت کسان تجارتی معاملات نسی اجراء کولاي.

**د تجار حقوق:** هغه حقوق دی چې عادی اشخاص یې درلودنکی نه دی په لاندی ډول دی.

۱-د تجارت خانی تاسیس حق، ۲- تجارت خونی رهن، ۳- دتفویق(خرڅ) حق.

1. د تجارت خانی د تاسیس حق: هغه ځای ته ویل کیږی چې یوتجار خپل تجارتی فعالیتونه په کار اچوی او له همدی ځایه خپل تجارتی معاملات رهبری، اداره او طرحه کوی، او په ذکر سوی محل کی کارمندان خپل وظایف ترسره کوی.
   تجارت خونی عناصر: ۱-مادی عناصر، ۲-معنوی عناصر
   I. مادی عناصر: هغه عناصرو او اجناسو ته ویل کیږی چې ظاهری وجود ولری او د تجارتی کارونو د مخ بیولو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږی او قابل د انتقال وی.
   II. غیرمادی عناصر: هغه دی چې مادتاً وجود ونه لری، بلکی معنوی ارزښت لرونکی وی چې هغه په لاندی ډول دی. ۱-کرایی تمدیدحق، ۲-تجارتی عنوان حق، ۳-اختراع حق، ۴-تجارتی نښی حق.
      1) د کرایی دتمدید حق: یوتجار کیدای سی خپل دفتر په کرایه نیولی وی دده نوم اوشهرت دهمدی دفتر څخه وی نو خاوند نسی کولای چې تجار له دغه ځایه وباسی او خپله یا بل چاته یې په کرایه ورکړی، یاد حق تجار لری او خاوند تجار ددی حق څخه نسی محروم کولای.
         تجارت اصولنامی د تمدید حق د کرایی دار لپاره مشخص کړی خو تجار لپاره کوم څه ندی ذکر کړی.
      2) تجارت خونی عنوان لرل: یعنی تجار باید تر یوځانګړی عنوان لاندی خپل فعالیتونه ترسره کړی. نوم باید خپله د تجار یا کورنی وی او دټولو هغو نومونو څخه جلاء وی چې مخکی ثبت سوی وی.
         که چیری یوڅوک داسی نوم وکاروی چې مخکی ثبت وی نو باید دهغوی په اجازه وی یایی ځانګه وی که داسی نه وی هغوی حق لری چې ابطال ترسره کړی.
      3) د اختراع حق: کیدای سی یوپوه کس یوشی اختراع کړی او تجار هغه رانیسی او تولیدات دهغه په اساس عیار کړی، تر ثبت وروسته بل تجار دیاد شی رانیول او ورته شی نسی جوړولای او بازار ته وړاندی کولای.
         ۲۰کاله یاد حق د مخترع لپاره په قوانینو کی ذکر سوی دی.
      4) تجارتی نښه: یوتجار د ناسالم رقابت دمخنیوی لپاره او خپل جنس د ښه معلوم کولو لپاره باید دخپلو تولیداتو لپاره ځانګړی نښه وکاروی تر ثبت وروسته یاده نښه بل تجار نسی کارولای.
         پدی اړه دوه کنوانسینونه ترسره سوی د پاریس دا ۱۸۸۳ او مادرید دا ۱۸۹۱.
2. د تجارت خونی رهن: عبارت له هغه رهن څخه دی چې د راهن او مرتهن ترمنځ د انتقال او تصرف پرته صورت نیسی او په حقیقت کی تجارت خونه دین وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تجاران بعضی وختونه اړ کیږی چې د دائینینو د جلب لپاره خپل تجارت خونه په ګروی ورکړی او خپله اړتیا له دی لاری پوره کړی
د تجارت خونی په رهن کی بغیر د تجارتی اموالو څخه نور ټول شیان شاملیږی او ددی رهن لپاره د لیکلی سند موجودیت، رسمی یا عرفی وثیقه شرط ده.

3. د تفویق حق: کله چې یوتجار تر ټاکلی نیټی پوری پور یا رهن اداء نه کړی نو داین یا مرتهن کولای سی چې د محکمی څخه د تجارت خونی د خرڅ غوښتنه وکړی او پدی توګه خپل دین یا رهن ترلاسه کړی.
که مالک خپله تجارت خونه خرڅوی مرتهن کولای سی دهغه افرادو څخه وګرځی چې په لومړی قدم کی د پیسو حق لری.

د تجار وجایب: تجار د حقوقو ترڅنګ د یوشمیر وجایبو هم درلودنکی دی، چې په لاندي ډول دی. ۱-په تجارتی دایره کی ثبت، ۲-تجارتی دفترونو لرل

i. په تجارتی دایره کی ثبت: په تجارتی دایره کي د ځان یا شرکت ثبت د تجار یوه وجیبه ګڼل کیږی، ثبت خپله ځانته ګټی لری چې په لاندی ډول یاد اوری کوو
   أ. په ثبت سره به دولت وتوانیږی چې تجارتی شرکتونو له لاری تجارتونه وپیژنی او اقتصادی برنامی طرحه ریزی کړی دا ګټه د دولت لپاره ده.
   ب. دثبت وروسته به تجار یا شرکت د هغو سهولتونو لاندی راسي چې یو دولت یی د تجارتی شرکتونو لپاره لری. لکه حمایه د شرکت دا ګټه د تجار لپاره ده.
   ت. د ثبت وروسته به غیرتجارتی اشخاص په شرکت باندی اعتبار ولری او د فرار بیره به ورسره نه وی. دا ګټه هم د تجار لپآره ده.
   ث. که چیری ځینی کسان د تجارتی معاملاتو غوښتنه ولری خو په هغه معاملاتو خبرداری ونه لری نو کولای سی چې د ثبت معلوماتو ته ورسی او معلومات ترلاسه کړی. دا ګټه د نورو اشخاصو لپاره ده.

هغه مطالب چې یوتجار یا تجارتی شرکت یی باید ثبت کړی. ۱-شخص یاشرکت نوم، ۲-دپلارنوم، ۳-دزیږیدنی نیټه، ۴-تابیعت، ۵-تجارت نوم، ۶-تجارت موضوع، ۷-شرکت ډول،تاسیس نیټه او مرکز، ۸-شرکت پانګه تجار مستثنی دی، ۹-هغه کسان چې د لاسلیک واک لری په تجارت خانه کی.
دثبت د اجراتو ځای: تجارتی ثبت دایره د هغومحاکمو تر تسلط لاندی راځی چې تجارتی شخړی حل او فصل کوی.
دثبت معیاد: ثبت د وثایقو څخه یوه میاشت وروسته قابل د اعتبار ګڼل کیږی.
نشر: که ثبت دفتر خپله جریده ولری خو ښه کنه نو بیا د محلی خصوصی جریدو کی اعلان کیږی خو افغانستان کی د عدلیی وزارت دا کار کوی.

ii. تجارتی دفترونو لرل: تجار یا تجارتی شرکت د بعضی دفترونو په لرلو مکلف دی.
تجارتی دفتر تعریف: دهغه اعددواره اوراقو څخه عبارت دی چې تجار یا شرکت یی د خپل مالی شتمنی د توضیح په موخه دقانون مطابق ساتی.
د تجارتی دفتر اهمیت:
   أ. تجار لپاره اهمیت: کولای سی ګټه او تاوان په اسانه ډول تشخیص کړی، د نورو سره د منازعی په صورت کی د ثبوت ښه وسیله ده، د افلاس په صورت کی دحسنی نیت ښه ښکارندویي، د نظم او انسجام لامل کیږی.
   ب. د غیرتجارتی اشخاصو لپاره اهمیت: دمنازعی په صورت کی د تجارتی دفتر یاداښات خپله یوډول ثبوت دی، شک او شبهه چې یوکس یی د شرکت په اړه لری له منځه وړی.
   ت. د دولت لپاره اهمیت: تجارتی دفترونه د مالی په آسانه راټولونه کی مرسته کوی.

تجارتی دفترونو ډولونه: اجباری او اختیاری
   أ. اجباری دفترونه: هغه دفترونه دی چې قانون د شرکت یا تجار لپاره دهغه درلودل یو مکلفیت ګرځولی وی. ۳ډوله دی
      - ورځنی دفترونه: هغه دی چې دورځی د کار د شروع څخه بیا ترختمه پوری ټول معاملات په تحریری ډول د وخت او نیټی سره پکی درج کړی.
      - عمومی دفترونه: هغه دی چې د ورځنی دفتر څخه وروسته معلومات جمه او په هفته یا میاشت کی عمومی ته رسیږی.
      - دارائی دفترونه: پدی ډول دفتر کی د عمومی دفتر په اساس د کال ټول معلومات درج کیږی.
   ب. اختیاری دفترونه: هغه دی چې تجار یا شرکت یی په خپله خوښه د ضرورت په اساس رامنځته کوی.

اجباری دفترونه باید تراش، قلم خوردګی او شکمن اثار پکی موجود نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تجارتي سيالي

رقابت: د تجارانو يا شرکتونو ترمنځ دداسی نقش لوبول چي ښه نظم او انتظام د خپلو مالونو په ارتباط مشتريانو ته وښيي. عبارت د رقابت څخه دی.

د رقابت ډولونه: ۱- مشروع ، ۲- نامشروع(ناسالم رقابت)

I. مشروع(سالم) رقابت: پدی معنی چي ښه توليدات په ارزانه بيه وپلورل سی ياهم د اجناسو قيمت ته د وخت او فصل په تغير سره تغير ورنه کړل سی.
II. غيرمشروع رقابت: عبارت د هغه سيالی څخه دی چي دتجارتی عرف مطابق نه وی او د ناسمو طرزالعملونو زيږنده وی.

ممنوعه سيالی: د قانون د احکامو سره په ټکر کي ديوټاکلی کاروبار ترسره کول عبارت د ممنوعه سيالی څخه دی. لکه بی اسنادو درملتون خلاصول، وخت تير دوا خرڅول.

د نامشروع رقابت ډولونه: ۱- مخالف تبليغات په بل شرکت يا تجار پسی کول. ۲- تقليد(همجنسه شی واردول). ۳- د بل شرکت د داخلی نظم د تخريب په منظور اقدام، ۴- غيری حقيقی اشتهارات نشرول.

د ناسالم رقابت په وړاندی اقامه کيدونکی دعوی:

a) مالی تعويض(ضررجبران) دعوي: دغه دعوی دوی موخی لری:
- مادی او معنوی تعويض
- د جانبی عواقبو جبران
b) جنايی دعوی د حبس او تاوان له جزا سره يوځای.

د ناسالم رقابت په وړاندی دعوه اقامه کوونکی دوه اشخاص کولای سی: ۱- د شرکت عمومی نماينده، ۲- د مصلحت څښتن(تجارياشرکت).

تجارتی معاملات: د عادلانه منفعيت د لاسته راوړلو په موخه په عمده او پرچون ډول د تجارتی اموالو دپير او پلور عمل ته ويل کيږی.

تجارتی معاملی شرايط: ۱- د اشياوو رانيول، ۲- د اشياوو خرڅول، ۳- د منفعيت لاسته راوړل، ۴- د اشياوو منقول والی، ۵- په معاملاتو کی دوام(استمرار)

د تجارتی او غيرتجارتی معاملو توپيرونه:

- تجارتی دعوی د تجارتی محکمی صلاحيت دی،
- تجارتی معاملی اثبات کی کتابت شرط نه دی، بلکی تجار د خاصو الزاماتو لرونکی دی.
- تجارتی معاملو کی تجاران په تضامنی شکل مسول دی خو مدنی کی بی له صراحته امکان نه لری.
- د ديواليتوب قواعد يوائی په تجارانو او شرکتونو تطبيق کيږی.

تجارتی معاملو ډولونه: ۱- اصلی تجارتی معاملی ، ۲- تابع تجارتی معاملی ، ۳- مختلطی تجارتی معاملی

1. اصلی تجارتی معاملی: د منقولو اموالو د اخيستلو څخه عبارت دی چي د خرڅولو په مقصد وی. دغه معاملی هرشخص سرته رسولی سی. عناصريی: ۱-دشی انتقال، ۲- د شی اخيستل، ۳- د شی خرڅول.
2. تابع تجارتی معاملی: هغه معاملی دی چي په اصل کی تجارتی معامله نه وی خو ورته وی ورته او که تجار دا معامله سرته ورسوی نو بيا تجارتی معاملی بلل کيږی. عناصريی: ۱- د تجار لخوا اجرا سوی وی، ۲- د تجارتی اموالو په اړوند اجرا سوی وی. لکه موټر اخيستل د تجارتی معاملاتو لپاره تجارتی معامله ده خو شخصی استفاده يی نه ده.
3. مختلطی تجارتی معاملی: که په تجارتی معامله کی دواړه لوری سوداګر او يا يو سوداګر وی خو بل نه وی دغه ته مختلطی ويل کيږی. په دوه ډوله دی ۱-خالصی، ۲- مختلطی
   A. خالصی تجارتی معاملی: هغه دی چي طرفين دواړه تجاران وی د منازعی په وخت کی تجارتی محکمه قضيه حل او فصل کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

B. مختلطی تجارتی معاملې: هغه دی چي طرفین یو سوادګر او بل نه وی، د منازعی په صورت کي که مدعی تاجر نه وی نو په مدنی محکمه کي قضیه څیړل کیږی او مدعی تاجر وی نو په تجارتی محکمه کي څیړل کیږی.

تجارت ډولونه: ۱- داخلی تجارت، ۲- خارجی تجارت

1) داخلی تجارت: عبارت دهغه تجارت څخه دی چي د هیواد په داخل کي د تجارانو ترمنځ صورت نیسی، او دهیواد ترسرحداتو بهر نه وی. ډولونه یی: ۱- عمده فروشی، ۲- پرچون فروشی.
   I. عمده فروشی: پدی ډول تجارت کي د اجناسو او شیانو اخیستل په لویه پیمانه صورت نیسی. عمده فروش د تولیدونکی او پرچون فروش ترمنځ اړیکه ټینګوی.
   II. پرچون فروشی: هغه دی چي د اجناسو پیرودل او پلورل یی په کمه اندازه صورت نیسی.
2) خارجی تجارت: هغه دی چي د هیواد د سرحداتو څخه دباندی صورت نیسی. ډولونه یی ۱- صادراتی، ۲- وارداتی.

تجارتی شرکت: هغه عقد دي چي د دوو یا زیاتو اشخاصو د سرمایی د اشتراک له مخی منعقد کیږی.

د شرکت ګټی: له دری اړخه څیړو

I. د حقوقو له نظره: شرکت ځانته شتمنی لری نو د شریکانو شتمنی د شرکت د پوروونو په وړاندی خوندی ده او یواځی په سهم پوری تړاو لری، خو په شخصی کی د تاجر ټول سرمایه ورپوری مربوط ده.
II. تداوم: په انفرادی کي زیاتره وخت د تجار په مړینه تجارتی فعالیت بندیږی خو شرکت کي د یوه شریک په مړینه فعالیت نه دریږی.
III. مالیاتی ګټی: د ټکس او مالیی د ورکړی په اساس شرکت د یوشمیر ګټو څخه برخمن کیږی. خو دا ګټی په هیوادو کي فرق کوی، افغانستان کي داګټی په لاندی ډول دی
   - د نوی شرکتونو ملاتړ تر یوڅه وخته د مالیی څخه معافیت
   - قانون جوړونکی کوښښ کوی چي د شرکتونو مالیه کمه وضعه کړی ترڅو د هیواد د خصوصی سرمایه ګذاری مخه ونیول سی.

د تجارتی شرکت د ترون ځانګړتیاوی: ۱- شکلی عقد، ۲- لازم عقد، ۳- ګټه او تاوان، ۴- اساسنامه، ۵- دتجع شرکت، ۶- شریک ګډون، ۷- شرکت شتمنی، ۸- حکمی شخصیت ، هریو لاندی واضح کوو

- شکلی عقد: یعنی داعقد په لیکلی او تحریری ډول رامنځته کیږی دهغه پرته باطل دی.
- لازم عقد: طرفین نسی کولای په یواځی ترون له منځه یوسی او په دوام یی مکلف دی.
- ګټه او تاوان: په ګټه او تاوان کی ټول شریکان ګډون لری.
- اساسنامه: شرکت د یو ترون په اساس چي اساسنامه نومیږی رامنځته کیږی.
- د تجع شرکت: دشرکت جوړولو لپاره کم ترکمه د دوو کسانو شتون اړین دی.
- هرشریک په شتمنی کي د یوی لاسته راوړنی په وړاندی کولو سره ګډون کوی.
- د شرکت شتمنی د شریکانو د شتمنی له جملی څخه نه ګڼل کیږی.
- شرکت د حکمی شخصیت درلودنکی دی.

د اشخاصو ډولونه: ۱- حقیقی اشخاص، ۲- حکمی اشخاص

۱. حقیقی اشخاص: عبارت د ټولو افرادو څخه دی چي فزیکی وجود ولری.

۲. حکمی اشخاص: عبارت د ټولو شرکتونو او مؤسساتو څخه دي چي د خپل حق غوښتنی لپاره دعوی اقامه کوی او بل څوک هم د حق د تلف په وخت کي ورباندی دعوه اقامه کولای سی.

د حکمی اشخاصو ډولونه: ۱- انتفاعی حکمی اشخاص، ۲- غیرانتفاعی حکمی اشخاص.

I. انتفاعی حکمی: عبارت له هغو شرکتونو او مؤسساتو څخه دی چي د ګټی د لاسته راوړلو په موخه فعالیت کوی.
   انتفاعی شرکتونه په دوه ډوله دی؛ ۱-مدنی قانون تابع، ۲- تجارتی قانون تابع
   a. مدنی قانون تابع: هغه شرکتونه دی چي اړوندی چاری یی د مدنی قانون تابع وی، لکه رهنمایی، نکاح خدمات...
   b. تجارتی قانون تابع: هغه شرکتونه دی چي اړوندي چاری یی د تجارت قانون د احکامو تابع وی او تجارت قانون احکام پر تطبیق کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

II. غیرانتفاعی حکمی: عبارت له هغو شرکتونو او مؤسساتو څخه دی چې د ګټې په موخه نه بلکې هدف یې په مجانی توګه د ټولنیزو خدمتونو ارایه کول وی.

په عمومی ډول د شرکتونو ډولونه

۱- مدنی شرکتونه، ۲- تجارتی شرکتونه

a. مدنی شرکتونه: هغه شرکتونه دی چې یوازې مدنی معاملات ترسره کوی. لکه رهنمایی، څمکې، ساختمانی او روزنیز فعالیتونه.
مدنی شرکت ډولونه: ۱- مفاوضه شرکت، ۲- عنان شرکت
   A. مفاوضه شرکتونه: هغه شرکتونه دی چې د شریکانو ترمنځ یې ګټه او تاوان مساوی ویشل کیږی.
   B. عنان شرکتونه: هغه شرکتونه دی چې د شریکانو ترمنځ ګټه او تاوان مساوی نه ویشل کیږی.

b. تجارتی شرکتونه: د وګړو دهغه ګډون څخه عبارت دی چې دتجارتی معاملاتو د اجراء په موخه په یوی یا څو موضوعاتو کې رامنځته کیږی.
د تجارتی شرکتونو ډولونه: ۱- داشخاصو شرکت، ۲- دپانګې شرکت
   A. د اشخاصوشرکتونه: هغه شرکتونه دي چې د مخکنی پیژنګلوی او اعتبار په اساس رامنځته کیږی او د یوشریک په مړینه یا شرکت په ترک سره شرکت له منځته ځی.
   B. دپانګی شرکتونه: هغه شرکتونه دی چې د سرمایی او شتمنی په اساس رامنځته کیږی، که د شریکانو څخه یو مړسی یا شرکت ترک کړی نوبیاهم شرکت فعالیت ته دوام ورکوی.
   د تجارت اصول نامی له مخی د پانګی شرکتونو ډولونه: ۱- سهامی شرکت، ۲- محدودالمسولیت شرکت، ۳- تضامنی شرکت، ۴- تضامنی مختلط شرکت، ۵- مرستیال(تعاونی) شرکت.

رکن: عبارت د یوشی دهغه برخی څخه دی چې د هغه شی په ماهیت کې داخل وی او دهغه دموجودیت پرته شی نسی موجودیدلای.

د شرکت د عقد ارکان: ۱- د عاموالی او خاص والی له حیثه(عمومی، ځانګړی)، ۲- د اصلی والی او شکلی والی له حیثه(اصلی، شکلی)

۱. د عاموالی او خاص والی له حیثه د ارکانو ډولونه: ۱- عمومی(عام) ارکان، ۲- خاص ارکان

A. عمومی ارکان: د شرکت د عقد د هغه ارکانو څخه عبارت دی چې په مجموعی ډول د ټولو شرکتونو لپاره صدق کوی. په دری ډوله دی- ۱-اهلیت او رضایت، ۲- د شرکت د موضوع مشخصوالی، ۳- د شرکت د سبب یا جهت مشروع والی
   - اهلیت او رضایت: شرکت کی شراکت د جانبینو د رضایت څخه ناشونی دی او شریکان باید د تصرف اهلیت ولری ځکه ګټه او تاوان دوی ته متوجه دی.
   - د شرکت د موضوع مشخصوالی: د شرکت موضوع(فعالیت) باید د تعین وړ او مشروع وی.
   - د شرکت د سبب یا جهت مشروع والی: سبب دهغه دلایلو څخه عبارت دی چې اشخاص و ګډون ته هڅوی، که سبب غیرمشروع وی نو شرکت عقد باطلیږی.

B. خاص ارکان: عبارت دهغه ارکانو څخه دی چې هرډول شرکتونه یې په ځانګړی ډول د ځان لپاره لری.

۲- د اصلی والی او شکلی والی له حیثه د ارکانو ډولونه: ۱- اصلی ارکان، ۲- شکلی ارکان

A. اصلی ارکان: هغه دی چې د شرکت په شریکانو پوری اړوندیږی. ۳ برخی لری
   - د شریکانو شمیر: مدنی قانون له مخی باید لږترلږه دوه شریکان وی، ځینی هیوادو کې یوتن هم کولای سی.
   - په ګټه او تاوان کې ګډون: مدنی قانون له مخي شریکان باید په ګټه او تاوان دواړو شریک وی.
   - د ګډون نیت: د شرکت د بریالیتوب په موخه د مساوی همکاری په اړه د شریکانو د ارادی څخه عبارت دی.
   شریک اراده په دوو مواردو کی مهمه ده:
      - د شرکت د جوړیدو پرمهال.
      - د شرکت د فعالیت پرمهال.

B. شکلی ارکان: لاندی برخی درلودنکی دی.
   - د اساسنامی ترتیب او تصویب: چې پکښې مسولیتونه، فعالیت او مهم مسایل درج کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- اساسنامه باید لیکلی وی: شفاهی قرارداد د شرکت په عقد کي اعتبار نه لری.
- د شرکت دایجاد اعلان او صراحت: یعنی د شرکت اړوند معلومات باید خپاره سی چي خلک په خبر سی.
- د شرکت عنوان: د ایجاد سره سم شرکت باید خاص نوم د ځان لپاره غوره کړی.
- د شرکت موضوع ټاکلی وی: یعنی چي دکوم شی اړوند فعالیت ترسره کوی.
- د شرکت تابعیت: یعنی د منازعی په حالت کي د کومو قوانینو تابع دی.
- د راوړل سوی اموالو او ژمنو تشریح: یعنی چي دکوم شریک سهم څو دی، په کار څوک، په مال څوک او په اعتبار څوک شریک دی.
  ۵۹،۵۸،۵۷،۵۶ سلایدونه خپله وګوری.

د شرکت ژوند: هغه وخت پیلیږی چي شرکت ثبت او حقوقی اهلیت ترلاسه کړی. شرکت کولای سی په خپل نوم او حساب فعالیتونه اجراء کړی.

د شرکت عنوان: هر شرکت باید یوټاکلی نوم ولری او داد شرکت معنوی ملکیت دی، دغه نوم باید په اساسنامه کي درج سی.

د شرکت د عنوان تعین: کیدای سی د فعالیت یاهم دیوه یا څو شریکانو د نوم له مخی ټاکل کیږی د شرکت په عنوان کی د شرکت د ډول یادونه حتمی ده.

- په سهامی شرکتونو کی دفعالیت سره د سهامی کلیمی په یوځای کولو جوړیږی او پدی شرکتونو کي د شریک نوم په عنوان کی نه ذکر کیږی.
- په تضامنی شرکتونو کی د شرکت عنوان دیوه یا څو شریکانو د نوم او تضامنی کلیمی په یوځای کیدو سره جوړیږی.
- د محدودالمسؤلیت شرکت عنوان اړوند په قانون کي صراحت نه دی راغلی.

د شرکت ځای(مقر): عبارت دهغه ځای څخه دی چي دشرکت مسؤلین او رهبران په هغه ځای کي شتون لری.

د شرکت ځای اهمیت

- د معاملاتو لپاره مراجعین ورته مراجعه کوي.
- مشتریان خپل اعتراضونه د شرکت په ځای کي شریکوی.
- د شرکت لیکونه وځای ته لیږل کیږی.
- د شرکت دفعالیت څخه نظارت د ځای څخه ترسره کیږی.
- د شرکت دعواوی ته هغه محکمه رسیدګی کوي چي د ځای په ساحه کي وی.

د شرکت ملی توب: هدف ورڅخه د شرکت تابعیت دي.

د تابعیت ضرورت: یو شرکت حکمی شخص دی او د حقیقی شخص په څیر حقوق او وجایب لری چي دا حقوق او وجایب د قوانینو په اساس ورکول کیږی. ددی لپاره چي شرکت د حقوقو څخه برخمن سی او وجیبی یی تعین سی نو د هیواد تابعیت ته اړتیا لری.

د شرکت د تابعیت دټاکنی معیارونه: ۱- د فعالیت د مرکز له مخي، ۲- دشرکت ځای او مقر، ۳- دشرکت ایجاد چي د کومو قوانینو مطابق وی.

نړیوال او څو ملتیز شرکتونه: هغه شرکتونه دی چي په هیڅ ملیت پوری اړه ونه لری بلکی د نړیوالو تړونونو په اساس رامنځته سوی وی. دغه شرکتونه تابعیت ته اړتیا نه لری بلکی حقوق او وجایب یی د نړیوال تجارت له مخي ټاکل کیږی.

د شرکت تجارتی بڼه(ډول): د شرکت د ډول دټاکنی معیارونه دوه دی،

- د حقوقی بڼی له مخی: سهامی، محدودالمسؤلیت او تضامنی شرکتونه تجارتی ګڼل کیږی.
- د موضوع له مخی: هغه شرکتونه دی چي موضوع یی منقول اموال، کرهنیز، ښونیز او ازاد شغلونه وی مدنی شرکتونه ګڼل کیږي.

د شرکت د مسؤلیت ډولونه: ۱- مدنی مسؤلیت، ۲- جزایی مسؤلیت،

1. مدنی مسؤلیت: هدف ورڅخه دادی چي کله د شرکت له لوری یوچاته ضرر ورسیږی نو شرکت د جبران په خساری مکلف دی. په دوه ډوله دی دا مسولیت= ۱- تعاقدی مدنی مسؤلیت، ۲- غیرتعاقدی مدنی مسؤلیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تعاقدی مدنی مسؤلیت: هغه مسؤلیت دی چي شرکت ته دهغه عقدونو او تړونو په اساس راجح کیږی چي شرکت منعقد کړی وی.
- غیرتعاقدی مدنی مسؤلیت: هغه مسؤلیت دی چي بغیر د کوم تړون څخه شرکت ته هغه راجح کیږی لکه کیندنه

2. جزایی مسؤلیت: هغه دی چي د شرکت دکوم جرمی عمل د ارتکاب په صورت کي شرکت ته راجح کیږی. دغه مسؤلیت دوه موارد لری ۱- نقدی جزا، ۲- فعالیت انسداد.

د شرکت شتمنی: عبارت د شرکت د حقوقو او مکلفیتونو له مجموعی څخه ده لکه معلوماتو ته لاسرسی حق، غونډو کی دګډون حق...

د شرکت پانګه: عبارت د شرکت د ټولو منقولو او غیرمنقولو اموالو څخه ده، مادی منقول لکه پیسی،اثاثیه، غیرمادی منقول لکه اختراع.

د شرکت استازیتوب: د استازیتوب لپاره د حقیقی اشخاصو ټاکل اړین دی ترڅو د شرکت په نماینده ګی چاری ترسره کړی.

- په شرکت کی شریکان یو دبل د اموالو په وړاندی امین دی نه استازی
- په هرشرکت کي مدیران شتون لری چي د شرکت چاری مخته وړی ۷۲سلاید وګوره

دشرکت اداره: هر شریک باید د اداره کولو لپاره مدیر وټاکی او د واک ساحه یی مشخصه کړی.

د شرکت د مدیر ټاکل: مدیر یو د شریکانو یاهم دریمګړی ټاکل کیدای سی.

مدیر بی له دی چي کوم خیانت یا عجز ولری دکاره نسی ګوښه کیدای.
که مدیر بی له دلیل څخه لیری سی نو د دعوی د اقامی حق لری.
که مدیر د اساسنامی دوخت ترپای ته رسیدو وروسته ټاکل سوی وی نو د کاره ګوښه کیدلای سی.

د مدیر صلاحیتونه

که مدیر یوشخص وی هغه کارونه باید ترسره کړی چي اساسنامه کي ټاکل سوی وی که اساسنامه کي وظایف مشخص نه وی نو هغه کارونه ترسره کولای سی چي د شرکت په ګټه وی.
مدیرانو ګډوالی د مدیرانو حدود په تړون کي ټاکل کیږی.
هر یو دشرکت داداری کارونه ترسره کولای سی.
تصمیم د رایو په اکثریت نیول کیږی.
بیړنی کارونو لپاره بیا د رایی اکثریت نه غواړی.

د شریکانو مداخله په اداری کارونو کی

د شریکانو مداخله ممنوع ده په اداره کی
هغه کارونه چي د شرکت او قانون خلاف وی باید پکښی مداخله وسی یایی شریک وکړی.
شریک د مدیر څخه غوښتنه کولای سی چي اداری کارونه په وخت ترسره کړی.
شریک د شرکت د کارونو څخه هروخت معلومات ترلاسه کولای سی.

د مدیر نه ټاکل: که مدیر موجود نه وی نو تر یو وخته شریکان کولای سی چي دا چاره مخته یوسی.

د پانګي له مخي د شرکتونو ډولونه:

أ. سهامی شرکتونه: عبارت له هغه شرکتونو څخه دی، چي د یوخاص عنوان لاندی د تجارتی معاملاتو د اجرا لپاره رامنځته کیږی، پانګه یي پرونډو ویشل سوی وی او د هرشریک مسولیت د هغه د ونډی په اساس وی.
د سهامی شرکت د ایجاد لپاره باید حداقل ۵ تنه موجود وی.
د سهامی شرکتونو تشکیلات: ۱-عمومی مجمع، ۲- مدیره هئیت، ۳- د څارنی هئیت.

a. عمومی مجمع: د وګړو هغه اجتماع ده، چي د شرکت حکمی شخصیت د هغوی په وجود پوری تړلی وی. دغه مجمع په حقیقت کي د شرکت مرکزی قدرت تشکیلوي.
د عمومی مجمع پریکړی د رایو په اکثریت سره صادریږی.
د عمومی مجمع ډولونه؛ ۱-د تاسیس عمومی مجمع، ۲-عادی عمومی مجمع، ۳-فوق العاده عمومی مجمع

i. د تاسیس عمومی مجمع: دهغو کسانو په حضور کي چي د پانګي نیمایي تمثیل کړی د اعتبار وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ii. عادي غونډې: دا غونډې د حسابي دورو وروسته په ۴ میاشتو یا حداقل په کال کي یوار دایریږی او ددی غونډو د لاری د شرکت سهم لرونکی په دغه غونډه سره خپل نظریات عملی کوی.
عادی غونډی د مدیره هئیت په تصمیم رابلل کیږی او عمومی تصمیمونه یي د مدیره هئیت په وسیله نیول کیږی او کلنی پلان د شریکانو په اطلاع تصوبیږی.
د عادی غونډو صلاحیتونه او دندی: ۱-مدیره هیئت ټاکل، ۲-دڅارنی هیئت ټاکل، ۳-د شرکت دګټی او تاوان بیلانس تصویب، ۴-د ګټو ویشنه، ۵-د وړاندیزونو تائید رایه.

iii. فوق العاده غونډی: د شرکت د فعالیت په جریان کي د هغه حالاتو په اړه پریکړه کول چي د عادی چارو څخه بهر وی د فوق العاده غونډي لخوا ترسره کیږي.
د فوق العاده غونډی رابلل د مدیره هیئت او څارنی هیئت د ۶ غړو او د هغه ونډه والو چي حد اقل ۲۰٪ د شرکت ونډه لری په تحریری غوښتنه د مدیره هیئت لخوا ترسره کیږی.
د فوق العاده غونډی صلاحیتونه: ۱- د شرکت د فعالیت د مودی تمدید، ۲- دشرکت د مرکز اونوم بدلون، ۳- د ممتازو ونډو نشرول، ۴- دپانګي زیاتول یاکمول، ۵- دموضوع بدلون، ۶- شرکت انحلال.

b. مدیره هیئت: حد اقل له ۳ تنو څخه تشکلیږی چي دعمومی مجمع لخوا ټاکل کیږی. مدیره هیئت یو اندازه ونډه د تضمین په توګه و شرکت ته ورکوی، اکثره وخت مدیره هئیت د ۳کالو لپاره ټاکل کیږی. مدیره هیئت هرکال په خپل منځ کی یوتن ریس ټاکی او که اړتیا وه یومرستیال ټاکی.
د شرکت د مامورینو استخدام د مدیره هیئت لخوا ترسره کیږی. که کومه مانع نه وی ددوی بیا ټاکنه جایز ده.
د مدیره هیئت په وړاندی دوه ډوله کسان دعوه اقامه کولای سی ۱- عمومی مجمع، ۲-هغه سهم لرونکی چي ۱۰٪ونډه دده وی.
د مدیره هیئت د سلب صلاحیت موارد: افلاس،قانونی اهلیت سلب،په جرم یاجنایت محکومیت.
د مدیره هیئت صلاحیتونه: ۱-دشرکت او اړوندو چارو اداره، ۲-د شرکت په نوم حقوقی معاملاتو اجراء، ۳-دشرکت پراسنادو لاسلیک او هغو ته اعتبار ورکول، مګر چي د اساسنامی له مخی بل څوک موظف سوی وی.
مدیره هیئت په ۴ ډوله دفاترو لرلو مکلف دی:۱-د ونډه لرونکو خاص دفتر، ۲-د تادیاتو دفتر، ۳-د عمومی مجمع د پیښو کتاب، ۴- د مدیره هیئت د تصاوییو کتاب. ۱۱سلاید

c. د څارنی هیئت: د مدیره هیئت د کړنو څارنه او د هغه څخه د عمومی مجمع خبرول د څارنی هیئت لخوا ترسره کیږی.
د څارنی هیئت غړی که د اساسنامی له مخی ۲ تنه وی نو اول ځل د یوه او دوهم ځل د ۳کالو لپاره ټاکل کیږی.
دغه وګړی کیدای سی د شرکت د غړو یا دریم ګړو څخه وی.
یو کس نسی کولای چي په یوه وخت کي د مدیره او څارنی هیئت غړی اوسی.
د څارنی د هیئت تشکیل او ټاکل:
ددی هیئت د غړو شمیر د اساسنامی مطابق ټاکل کیږی.که اساسنامه کي شمیر نه وی نو ۲تنه دی.
غړی د دوهم ځل لپاره هم ټاکل کیدای سی.
عمومی مجمع کولای سی د خاصو موضوعاتو لپاره بیل هیئت وټاکی.
هغه کسان چي د مدیره هیئت سره خپلوی لری د څارنی هیئت نسی ټاکل کیدلای.
د څارنی د هیئت د غړو لیری کول:
عمومی مجمع یي لیری کولای سی.
که دغه غړی د ونډو لرونکو څخه وی د عزل په صورت کي د جبران دعوه نسی اقامه کولای.
د هیئت غړی ټاکل او تبدیلول باید د مدیره هیئت لخوا د تجارت په دفتر کی ثبت سی.
که یو غړی لیری سی نو پاته کسان یونفر د موقت وخت لپاره د عمومی مجمع د لومړی غونډی پوری ټاکلای سی.
د څارنی هیئت دندی:
د ټولو هغه چارو اجرا چي د اسنادو په تدقیق اړه لری.
پر مدیره هیئت باندی یا نورو شریکانو باندی د ونډه لرونکو د شکایت اوریدل او تحقیق کول.
د مدیره هیئت په غونډو کي ګډون او هغوی ته د عادی او فوق العاده مجمع د مناسبو وړاندیزو وړاندی کول.

د ونډو اسناد

ونډه: په شرکت کي د شریک برخه عبارت د ونډی څخه ده.
ونډه: عبارت دهغه کوچنیو ټوټو څخه ده، چي د شرکت پانګه د هغه مجمع تشکیلوی.
د ونډی ډولونه: ۱-نوم لرونکی، ۲-بی نومه، ۳-ممتازه، ۴-نقدی او غیرنقدی، ۵- انتفاعی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

I. نوم لرونکی ونډه: هغه ونډه ده چې دهغه ونډه وال مشخص او معلوم وی.
نوم لرونکی ونډه د شرکت دونډو په دفتر کې ثبت کیږی او په اسنادو کې د ونډه وال نوم،کار او د اوسیدلو ځای درج کیږی.
دغه ونډه هغه وخت استفاده کیږی چې شرکت وغواړی خپل ونډه وال وپیژنی.
په سهامی شرکتونو کې کیدای سی ټولی ونډی نوم لرونکی وی او یاداچې یوه برخه یی نوم لرونکی او بله بی نومه وی.
د نوم لرونکو ونډو انتقال دهغه اصولو له مخی صورت نیسی کوم چې اساسنامه کی درج سوی وی، یعنی دا ډول ونډی یواځې محدودو کسانو ته اجازه لری مثلاً په خارجی باندی نه سی خرڅ کیدلای همدارنګه که یو شریک خپله ونډه خرڅوی باید اول یې شریکانو ته وړاندی کړی که هغوی انکار وکړی بیا دریم ګړی باندی خرڅولای سی.

II. بی نومه ونډه: هغه ونډه ده چې د شرکت په پاڼو یا د ونډو په دفتر کې نه وی درج سوی.
ددی ونډی څخه د کار دسرعت په سبب ګټه اخیستل کیږی. یعنی ددی ونډو پلورل او پیرل خاصو شکلیاتو ته ضرورت نلری بلکی ونډه وال صرف دهغه قیمت په ترلاسه کولو سره کولای سی یاده ونډه دریم ګړو ته انتقال کړی.
بی نومه ونډه د نوم لرونکی سره په ارزښت،حقوقو څخه ګټه اخیستنه او شرکت په ګټه او تاوان کې په اشتراک یوشان ده.

III. ممتازه ونډه: هرکله چې شرکت اړ سی چې وګړی زیات کړی یا پانګه زیاته کړی نو که اشخاص په عادی شرایطو سره د ونډې اخیستلو ته نه سی حاضر شرکت خاصی ونډی د ممتازی ونډی په نوم خپروی. چې دغه ونډه لرونکی ته د عادی ونډوالو په پرتله زیات امتیاز په نظر کی نیول کیږی.

IV. نقدی او غیرنقدی ونډه:
نقدی ونډه: هغه نقدی پیسی چې په شرکت کې د ګډون لپاره شرکت ته ورکول کیږی عبارت دنقدی ونډی څخه ده.
غیرنقدی ونډه: هغه ده چې یوشخص په غیرنقدی اشیاو او اجناسو باندی شریک وی.

V. انتفاع ونډه: هغه ونډه ده، چی په اساس یې شریکان د شرکت دګټو څخه مستفید کیږی.
دا ونډه یواځې د شرکت و موسسانوته ورکول کیږی چې د شرکت په ایجاد کې زحمتونه کښلی وی نوبنا ودی ته د موسس ونډه هم ویل کیږی.

د ونډې د ملکیت څخه رامنځته کیدونکی حقوق او وجیبی:

i. د ونډی دمالک حقوق
أ. د شرکت په ګټه کی برخه
ب. د شرکت په سرمایه کی برخه
ت. د شرکت دوضیعت او حالت څخه دباخبری حق
ث. په شرکت کې دعضویت حق
ج. د رایی حق

ii. د ونډې د مالک وجیبی
أ. شرکت ته ونډې د اسمی قیمت ورکول
ب. د ونډې دغوښتل سوی مبلغ ورکول د اساسنامی د معیاد په داخل کی.

د ونډو لیږد: په سهامی شرکتونو کې ونډې د یوه شخص څخه بل شخص ته د لیږد قابلیت لری. دا ونډې په عام ډول د صرافیانو،بانکونو، او بورس بازارنو په واسطه لیږل کیږی. د ونډو لیږد اکثره د تجارت په هدف ترسره کیږی او د ونډو د انتقال اړوند ځانګړی مقررات شتون لری.

د ونډی بدلون: په سهامی شرکتونو کې امکان لری چې د مصلحت په پام کې نیولو سره ونډی د نوم لرونکی څخه بی نومه یا د بی نومه څخه نوم لرونکی ته تغیر کړای سی، او دا کار هغه وخت امکان لری چې مخکی له مخکی په اساسنامه کې پیشبینی سوی وی.

1. بی نومه ونډه نوم لرونکی ته: هرکله چې شرکتونه دی ته اړسی چې خپل شریکان وپیژنی نو بی نومه ونډه نوم لرونکی ونډی ته بدلوی.
2. نوم لرونکی بی نومی ته: کله چې شرکت تاسیس کیږی نو ددی لپاره چې دونډی قیمت نه ورکول کیږی اړ دی چې نوم لرونکی ونډی خپری کړی ولی د قیمت د ترلاسه کولو وروسته شرکت د اسانتیا په خاطر کولای سی خپلی ونډی بی نومی ته بدلی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ونډو قيمت: ۱- اسمی قيمت، ۲-تجارتی قيمت

1. اسمی قيمت: هغه قيمت دی چي د تاسيس په لومړی ورځ د ونډی لپاره ټاکل سوی وی.
2. تجارتی قيمت: هغه دی چي د شرکت د فعاليت له مخی ټاکل کيږی. او دا قيمت کيدای سی تر اسمی لوړ وی يا ټيټ وی.

د پور اسناد:

قرض سند: عبارت د يواندازه پور څخه دی چي د ټاکلی سود سره يوځای بايد پرټاکلی وخت مسترد سی.

کله کله سهامی شرکتونه دی ته اړتيا پيداکوی چي د خپلو اړتياوو د رفع کولو په منظور قرضونه وکړی چي دا قرضونه په دوه ډوله صورت نيسی:

1. شرکت د بانک يا اشخاصو څخه يواندازه پور کوی او په بدل کي اموال يا قيمتی اوراق ورته په تضمين کي ايږدی.
2. ځينی وخت سهامی شرکتونه د پور اسناد بازار ته نشروی ددی اسنادو خپرول د سودی معاملو د جملی څخه دی چي شرعاً ستونزه لری نو ځکه کولای سو په عوض کي يې دمشارکت د پاڼو څخه د وسيلی په توګه ګټه واخلو.

دپورخاوند او ونډه وال توپير:په سهامی شرکتونو کي د پور دخاوندانو او ونډه لرونکو ترمنځ توپير موجود دی هغه داچي ونډه وال د عمومی مجمع په غونډو کي رايه کارولای سی او که شرکت منحل کيږی مخکی دپورونو تروړکړی ونډه وال خپله هيڅه نسی وړلای اما د پور مالک نه په شرکت کي شريک دی او نه په اداره کی داخل دی خو د شرکت په وړاندی د دعوی حق مخکی له شريکانو څخه د پورخاوند لری.

د پاڼګو ويش: هرکله چي شرکت منحل کيږی نو مخکی قرضونه اداکيږی او بيا دشرکت ګټه او پانګه د سهم په اندازه په ونډه لرونکو باندی تقسيم کيږی.

د سهامی شرکتونو انحلال موارد

1. دټاکلی مودی پای ته رسيدل
2. د شرکت دمقصد ترلاسه کول او يا امکاناتو نه ترلاسه کول.
3. کله چي دشرکت ۲-۳ برخه تاوان وکړی.
4. کله چي دشريکانو تعداد د تنو څخه کم سی.
5. دهغه سبب واقع کيدل چي په اساسنامه کی دشرکت دانحلال لپاره ټاکل سوی.
6. دبل شرکت سره يوځای کيدل.
7. دشرکت افلاس.
8. دفوق العاده عمومی مجمع دپريکړی په اساس انحلال.

دګټی او تاوان حساب: دشرکت دګټی دويش مخکی ٪۵ دګټی داحتياطی پانګی په نوم اخيستل کيږی او دشرکت داحتمالی ضرورتونو دجبران لپاره کارول کيږی او دا پانګه ترهغه وخته دشرکت دګټی څخه اخيستل کيږی ترڅو د احتياطی پانګی اندازه دشرکت دپانګی ۱-۴ برخی ته ورسيږی.

تصفيه: دشرکت تصفيه عبارت د شرکت دګټی او تاوان دحساب او دشرکت دپورونو دمعلومولو دپروسی څخه دی.

د سهامی شرکتونو دتصفيی کوونکو وجايب

1. دشرکت د وضيعت دقيقه مطالعه، دپانګی دفتر جوړول او عمومی مجمع ته دتصويب لپاره دهغه رسيد وړاندی کول.
2. دکارو په پای کي دنهايی بلانس جوړول او عمومی مجمع ته وړاندی کول.
3. دتاوانی امتعی دفروش اړوند دعمومی مجمع تصويب اخيستل.
4. ديوکال په ترڅ کی دسپارل سويو دنډو پوره کول دنه اکمال په صورت کي دکارو ګزارش، دپاته کيدو اسبابو سره او دتصفيی دچارو د دوام دتصويب لپاره عمومی مجمع ته وړاندی کول.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**